# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

سه شنبه د ۱۳۹۹ د وږي ۱۵مه | د ۲۰۲۰ د سپټمبر شپږمه |۶۰۶مه گڼه

2 017550 139621


## ځېره

۴ مخ

### شیخ صباح احمد

شیخ صباح د نړۍ په کچه پېژندل شوی ډیپلومات د خپل هېواد (کویټ) لپاره څلوېښت کاله د بهرنیو چارو وزیر او څوارلس کاله لومړی وزیر پاتې شوی دی.



## سوله او د دوحې سفر:

### شنونکي: امریکا غواړي افغان لوری او طالبان پوه کړي چې د سولې راوستل حتمي دي



---

اشرف غني به په دوحه کې څه تر لاسه کړي؟

۲ مخ

کشورهای پیش‌رفته چه گونه سطح زندگی معلمین‌شان را بالا بردند؟

۲ مخ

د ملگرو ملتونو عمومي اسمبلۍ ۷۵یمه ناسته او د قدرتونو ناندرۍ

۳ مخ

---

## مالیې وزارت: جرمني د روان کال تر پایه له افغانستان سره ۲۴۰ میلیونه یورو مرسته کوي



مالیې وزارت وایي، جرمني ژمنه کړې چې د روان کال تر پایه به له افغانستان سره په بېلابېلو برخو کې ۲۴۰ میلیونه یورو مرسته وکړي. یاد وزارت زیاتوي، چې د جرمني د اقتصادي همکاریو او پراختیا وزارت (BMZ) ژمنه کړې چې په ۱۳۹۹ کال کې به شاوخوا ۲۱.۳ میلیارده افغانۍ (۲۴۰ میلیونه یورو) د مالي او تخنیکي همکاریو لپاره پانگونه وکړي. د مالیې وزارت د چارواکو په خبره، نوره مرسته به BMZ په مستقیمه توگه نادولتي سازمانونو ته ورکوي او پر دې سربېره به د جرمني د بهرنیو چارو وزارت له افغانستان سره د ثبات ټینگښت د پروژو لپاره تر ۱۶ میلیارده افغانۍ (۱۸۰ میلیونه یورو) او همدارنگه په ۲۰۲۰ ز کال کې د بشردوستانه مرستو لپاره ۱.۷ میلیارده افغانۍ (۱۹.۴ میلیونه یورو) مرسته کوي. له دې کار سره به المان په ۱۳۹۵ کال کې د خپلې همکارۍ ژمنه چې په بروکسل کنفرانس کې یې کړې وه چې المان به په ټولنیز ډول هر کال په ملکي برخه کې ۴۳۰ میلیونه یورو مرسته کوي، پوره کړې.

---

## هوايي چلند اداره: د کرونا ویروس د پراختیا له کبله ترکیې له افغانستان سره خپلې الوتنې بندې کړې دي

د ملکي هوايي چلند ادارې مسوولین وایي، د ترکیې «ترکش ایرلاین» شرکت یو ځل بیا افغانستان ته خپل الوتنې بندې کړې دي.

د دې ادارې ویاند محمد نعیم صالحي ویلي چې یاد هېواد په افغانستان کې د کرونا ویروس د یو ځل بیا پراخېدو له امله خپلې الوتنې بندې کړې دي.


نوموړي زیاته کړې، چې ترکیې په دې اړه کوم مکتوب نه دی لېږلی، بلکې د ملکي هوايي چلند ادارې سره یې تماس نیولی او دا خبر یې ورکړی دی. هغه ویلي: «د هغه تماس په اساس چې هغوی د ملکي هوايي چلند له ادارې سره لاره، د کرونا ویروس پراخېدو له امله یې یو ځل بیا افغانستان ته خپل پروازونه بند کړي. د افغانستان د هوايي شرکتونو پروازونه هم ترکیې ته بند شوي دي.»

نوموړي ویلي، معلومه نه ده چې دغه الوتنې به د اکتوبر میاشتې تر پای ته رسېدو وروسته له سره پیل شي او که نه. صالحي زیاته کړې چې ترکش ایرلاین شرکت ایران او عراق ته هم خپلې الوتنې بندې کړې دي.

د یادونې ده چې په افغانستان او نړۍ کې د کرونا ویروس تر خپرېدو وروسته د ترکیې په گډون یو شمېر نورو شرکتونو هم افغانستان ته خپلې الوتنې بندې کړې وې. ترکش ایرلاین تر دري میاشتني ځنډ وروسته تېره میاشت افغانستان ته الوتنې پیل کړې وې.

---

## خلیلزاد: په افغانستان کې د تاوتریخوالي لوړه کچه د بې‌باورۍ د زیاتېدو لامل گرځېدلې



۵ مخ

---

## ولسی جرگه، فرمان تقنینی در مورد طرح قانون مبارزه با فساد اداری را رد کرده است



ولسی جرگه، با اکثریت آرای اعضای حاضر در جرگه، فرمان تقنینی رئیس جمهور در مورد طرح قانون مبارزه با فساد اداری را رد کرده است.

کمیسیون عدلی و قضایی ولسی جرگه که دیروز، در نشست عمومی این جرگه در مورد فرمان تقنینی به اعضای جرگه معلومات ارایه می کرد، گفت این طرح که شامل تشکیل کمیسیون مبارزه با فساد اداری است، در پنج فصل و ۴۰ ماده طی فرمانی در سال ۱۳۹۷ نافذ شده است.

خالد اسد معاون کمیسیون عدلی و قضایی ولسی جرگه گفت که روی این فرمان، در جلسات مشترک بحث کافی صورت گرفته است و اکثریت کمیسیون های دایمی جرگه، خواهان رد آن می باشند.

به گفتهٔ موصوف، در این مورد نیاز به صدور فرمان نیست؛ زیرا قانون وجود دارد و اگر حکومت خواهان تعدیل آن باشد، بهتر است که به جای صدور فرمان، طرح تعدیل قانون را تهیه و به جرگه بفرستد.

سرانجام میر رحمان رحمانی رئیس ولسی جرگه، این فرمان تقنینی را به رای گذاشت، که از ۱۲۸ عضو حاضر در جرگه، پنج تن با آن موافقت کردند و ۱۲۳ تن، به آن رای رد دادند.


---


Aksos

اکسوس کتابپلورنځی

Aksos Book Store

Add a Book to Your Life



دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

aksosbookstore@gmail.com

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

Aksos Book Store

## دریـــځ

### اشرف غني به په دوحه کې څه تر لاسه کړي؟

محمد اشرف غني د یوه حکومتي پلاوي په مشرۍ دوحې ته تللی دی. ویل کېږي چې دا سفر د قطر د امیر په رسمي بلنه شوی، چې پکې د نورو لیدنو کتنو ترڅنګ دوه مهم مجلسونه کېږي. د افغان سولې لپاره د امریکا له ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد او په افغانستان کې د ناټو او امریکایي ځواکونو له عمومي قوماندان سکاټ مېلر سره لیدنه او د دې تر څنګ د قطر له امیر سره لیدنه د دغه سفر اصلي برخه جوړوي.

اوس پوښتنه دا ده چې د دغه سفر اصلي موخه څه ده او په دغو دوو مهمو مجلسونو کې به څه وشي؟

اشرف غني په یوه مهم وخت کې دوحې ته ورځي، ځکه له یوه اړخه د سولې خبرې له خنډ او ځنډ سره مخ دي او له بله اړخه امریکا هڅه کوي چې دا خنډ او ځنډ له منځه یوسي. له دې سفر سره هممهاله د ناروې، جرمني، ازبکستان او اندونیزیا استازي هم په دوحه کې دي او هڅه کوي چې دواړه اړخونه د سولې په برخه کې د رامنځ ته شوو خنډونو حل ته وهڅوي او تر ممکنه بریده پرې فشار راوړي. سفر له دې امله هم مهم دی چې خلیلزاد په دوحه کې دی او په افغانستان کې د ناټو او امریکایي ځواکونو عمومي قوماندان هم دوحې ته ورغلی دی. ښکاري چې په دوحه کې به ولسمشر غني ته یو واضح پیغام ورکړل شي.

زلمی خلیلزاد او سکاټ مېلر به اشرف غني ته د امریکا له اړخه یو مهم پیغام ورکړي او ورته واضح به کړي چې امریکا په افغانستان کې د جګړې دوام نه غواړي او نور یې په جګړه کې د طالبانو پرضد ملاتړ نه شي کولی. ښایي دا هم ورته وویل شي چې سوله امریکایي غوښتنه او پروسه ده او د دې پروسې پر وړاندې درېدل د امریکا پر وړاندې د درېدلو مانا لري. البته هغه څه چې د دې لیدنو په اړه رسمي چارواکي وایي او یا هم رسنیو ته پرې خبرونه راځي، تر هغه ډېرې متفاوت دي چې دواړو اړخونو پرې خبرې او بحث کړی دی.

د قطر امیر به هم هڅه وکړي چې اشرف غني سولې ته وهڅوي او ورته وبه وایي چې له شرطونو، سرو کرښو او خنډونو تېر شي او ټول هغه څه ومني چې د سولې پروسه ورته اړتیا لري. په دې کې به د موقت حکومت او جمهوریت په ګډون ټول هغه مهم څه راځي چې اشرف غني یې سرې کرښې ګڼي. د قطر امیر به یوازې هڅونه نه کوي، بلکې د سولې په مسئله کې د امریکا د جدیت تر څنګ به ورته د امریکا د زور او فشار پیغام هم په نامستقیم ډول ورسوي.

د دغو دواړو مهمو لیدنو په اړه به رسنیو ته ډېر څه را نه شي او نه به هم ژر لوی محسوس بدلون راشي، خو د امریکا پیغام به جدي وي او له لږ ځنډ وروسته به یې محسوسې پایلې ولیدل شي. اشرف غني او ملګري به یې اړ شي چې ډېرې غوښتنې ومني، له سرو کرښو به تېر شي او د موقت حکومت به ګډون به ټولو هغو چارو ته غاړه کېږدي چې د سولې په پروسه کې ورته اړتیا ده.

# کشورهای پیش‌رفته چه گونه سطح زندگی معلمین‌شان را بالا بردند؟

مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی

بیست و پنج سال پیش در سطح بین المللی روز (۵ اکتوبر) به نام روز جهانی معلم نام‌گذاری شد که در افغانستان به تاریخ (۱۳ میزان) تجلیل می گردد.

در سال ۱۹۹۴ میلادی سازمان آموزشی، علمی و فرهنگی ملل متحد (یونسکو) در چهل چهارمین اجلاس وزرای آموزش و پرورش با ۱۳۵ کشور عضو که از ۳ تا ۸ اکتوبر در شهر ژنو برگزار شد، توسط مدیر عمومی آن وقت سازمان یونسکو (فدریکو مایو) پیشنهاد شد که یک روز به نام معلم اعلام شود. هدف این نام‌گذاری توجه به اهمیت تدریس و بهبود سطح زندگی معلمین می باشد، تا از این طریق معضلات حل شده و به نظریات آن‌ها گوش داده شود. امروز وضعیت سطح زندگی، حقوق و مزایا و معیشت معلمین، نه فقط در کشور ما؛ بلکه در بسیاری کشورهای دنیا یکی از مسائل مورد مناقشه به حساب می آید. تمام کشورهای جهان نظر به وضعیت خود شان، به این موضوع توجه نشان می دهند.

اما در کشورهای توسعه یافته چگونه به این مسئله نگاه می شود؟ دغدغه اصلی این کشورها تأمین نیروی کار شایسته است تا نیاز آموزش به مکتب را بر طرف کند. از نظر تمام این کشورها باید وضعیت معیشتی و سطح زندگی به نحوی باشد که بتواند مشکلات معلمین را رفع نموده و او را از لحاظ ذهنی به آرامش برساند تا وی بتواند با آرامش خاطر به آموزش بپردازد و علمیت خود را در خدمت دانش آموزان قرار دهد.

با این وجود، وضعیت معلمین در میان تمام کشورها یک‌دست نبوده و با تفاوت‌های چشمگیری مواجه است. در میان کشورها بطور مثال ایالات متحده امریکا در ایالت‌های مختلف آن برای معلمین مزایایی و حقوق متفاوت در نظر گرفته شده است، حقوق معلمین از طریق اتحادیه‌ها با دولت شریک می شود. در میان کشورهای جهان آلمان، جاپان، کانادا، مالیزیا و کوریای جنوبی بیشترین حقوق را برای معلمین‌شان در نظر گرفته‌اند، البته شرایط کار برای آموزگاران در کشورهای گوناگون مختلف بوده نظر به آن تعین می گردد. تحلیل حاضر را به همین موضوع اختصاص داده ایم تا ببینم که تفاوت میان سطح زندگی معلمین افغان در مقایسه با کشورهای دیگر؛ چه گونه است؟ و چه طور می توانیم از تجربه سائر کشورها دراین عرصه استفاده نماییم؟

**معلمین در جاپان**

جاپان در سال ۱۸۶۸ میلادی زمانی که در مقابل حکومت خود قیام کردند، دولت جدید پس از آن هیئت های را به چند کشور از جمله آلمان، فرانسه و امریکا اعزام نمودند و به اساس آن توانسته اند ایده جدید به نظام تعلیمی خود ایجاد نمایند. جاپان در نظام تعلیمی و آموزش خود رتبه دوم را در جهان دارا می باشد، جاپان کشوری است که با مصارف کم در پی تلاش بالابردن سطح آگاهی دانش آموزان خود می باشد و این کار را می خواهد با بدست آوردن رضایت معلمین خود حاصل نماید، چون تا زمانی که رضایت معلمین موجود نباشد، ممکن نیست به کیفیت برتر دست یابند. حقوق یک معلم در جاپان معادل ۷۵۰۰ دالر در ماه می باشد، معلمین قبل از این که به این شغل آغاز به کار نمایند، حس وظیفه شناسی، داشتن علاقه به شاگردان در وجود شان نهادینه می گردد، با احترام که به انها صورت می گیرد انها را وادار به صداقت شغلی شان می نمایند. مردم جاپان در برنامه های عمومی عرفی را ایجاد نموده اند که کرسی خود را به هیچ کس جز معلم رها نمی نمایند، زمانی که می خواهند یکی از وسایل و یا محل سکونت معلمین را تفتیش نمایند، پولیس باید از طرف دولت اجازه نامه رسمی داشته باشد. همچنان، معلمین می توانند با کارت‌های شغلی خود در مواردی از سهولت‌های وزراء و نمایندگان دولتی نیز برخوردار شوند. طبیعی است با تمام این قدر و ارزش که از جانب دولت و مردم برایشان صورت می گیرد، معلمین با علاقه و پایبندی به ادای مسئولیت خود اقدام می نمایند.

**معلمین در مالیزیا**

مالیزیا روند توسعه خود را دیرتر از برخی کشورهای شرق آسیا (جاپان، کوریای جنوبی، تایوان، سنگاپور) آغاز کرد، اما به سرعت در مسیر رشد و توسعه قرار گرفت. دلایل اصلی این موفقیت در مواردی همچون اصلاح ساختار مدیریت سیاسی، اقتصادی، تعلیمی، خصوصی سازی، توسعه صادرات و الگو گیری از کشورهای موفق و تعامل فعال با قدرت‌های برتر می باشد.

دوره بنیادین تحول توسعه‌ای مالیزیا در سال های (۲۰۰۳ – ۱۹۸۱) میلادی دوره زمام‌داری دکتور مهاتیر محمد بوده است، عمده ترین سیاست‌های مهاتیر گسترش آموزش همگانی، توسعه تحقیقات علمی و توجه به آموزش و آموزگار می باشد. در زمان حکومت وی معلمین توانسته اند دوره‌های کسب مهارت آموزگاری را به صورت رایگان حاصل نمایند و با موفقیت از یک درجه تحصیلی به درجه تحصیلی دیگر ارتقاء یابند.

در مالیزیا اداره‌ء مهمی به اسم تعاون و رفاه معلمین وجود دارد، که وظیفه آن تامین رفاه معلمین در سراسر آن کشور است؛ معلمین با در جریان گذاشتن دغدغه‌ها و مشکلات شان با این اداره، می توانند در پیشنهاد برای حل نیز همکاری نمایند. ارایه خدمات رفاهی از قبیل بیمه، قرضه‌ها، تسهیلات بانکی، تامین مراکز رهایشی، خدماتی بهداشتی و درمانی وغیره وظیفه این بخش است.

**وضعیت ناگوار معلمین در افغانستان**

در حالی که معلمی یک شغل پر مسئولیت در اکثریت جهان به شمار می رود، اما در افغانستان به این شکل نمی باشد. شغل معلمی در کشور به یک شغل آنچنان قابل توجه دیده نمی شود، دولت برای معلمین با مهارت و با استعداد هیچ تفاوت از معلمین که استعداد و روش تدریس را بلد نیستند؛ قایل نمی باشد که طبعاً سبب روحیه کشی و منع ابتکارات می گردد. معلمین در افغانستان حقوق ماهانه بین ٦ الی ۱۴ هزار افغانی معادل به ۷۰ الی ۱٦۰ دالر دریافت می کنند. در حالی که در ایران این رقم از ۳۰۰ تا ٦۰۰ دالر، در امارت ۲۵۰۰ دالر، کوریای جنوبی برای معلمین تازه کار ۲۳۰۰ دالر و بعد از ۱۰ سال ۳۵۰۰ دالر، می باشد.

معلمین افغانستان در مکاتب دولتی گاهی صنف های ۵۰ الی ٦۰ نفری را نیز مدیریت می نمایند، این موضوع بالای آنها فشار جسمی و روانی زیادی را می آورد. معلمین در افغانستان از آرامش ذهنی برخوردار نمی باشند، تعداد زیادی از آنها در خانه‌های کرایی زندگی دارند، از مشکلات اقتصادی، امنیتی و حتی خانواده‌گی رنج می برند. نبود امکانات، معاش کم، موقعیت و ارزش اجتماعی نا مناسب، موجودیت فساد اداری در استخدام معلمین باعث گردیده است که کیفیت تدریس آنها را کاهش دهد، و دیگران که دانش آموخته اند و متخصص می باشند، مسئولیت معلمی را نپذیرند.

آموزش و پرورش ستون اصلی یک کشور را تشکیل می دهد و آنانی که این ستون را محکم می نمایند، باید برای آنها توجه صورت گیرد. امسال همانند سال‌های گذشته از روز معلم در حالی تجلیل می شود که حکومت افغانستان توجهی به وضعیت زندگی معلمین ندارد، وعده های بجا ناشده، سال های قبل نیز، دیوار بلندی از بی اعتمادی میان حکومت و معلمین را بوجود آورده است. معلمی که این چنین تحت فشارهای گوناگون قرار داشته باشد، چگونه می تواند یک صنف ۴۵ تا ۵۵ نفری که با استعدادهای متفاوت می باشند، مدیریت درست نماید.

**چه باید کرد؟**

بخاطر بهبود وضعیت زندگی معلمین افغانستان اقدامات زیر را بنیادی می دانیم:

قیام صلح و پایان دادن به جنگ، زیرا تا وقتی که جنگ و بی امنیتی دوام داشته باشد؛ هیچ بخشی از اجتماع نمی تواند رشد و تکامل درست نماید. بخش اعظم بودجه، به خصوص کمک‌های بیرونی در جنگ به مصرف می رسد و چیزی برای زمینه‌های انکشافی باقی نمی ماند. حکومت های بعد از جنگ باید بهبود وضع معیشتی معلمین بخاطر انکشاف معارف کشور را در اولویت‌های کاری خویش قرار دهند.

بعد از پایان اثرات ناگوار کرونا بر اقتصاد کشور؛ در معاش معلمین کشور از ۱۰ تا ۳۰ فیصد ازدیاد به عمل آید؛ این ازدیاد می تواند پاسخگوی برخی از مشکلات اقتصادی آموزگاران محترم ما گردد که در مکاتب دولتی مصروف خدمت می باشند.

اسناد زمین‌هایی که قبلاً به معلمین محترم در ولایات مختلف کشور داده شده، نهایی گردد. همچنان به معلمینی که تا حال از این امتیاز برخوردار نگردیده اند؛ به حسب قرعه و نوبت، طی سال‌های آینده زمین توضیع گردد.

بانک های کشور؛ به خصوص بانک اسلامی افغانستان باید قرضه های با شرائط سهل را جهت اعمار سرپناه در خدمت آموزگاران کشور قرار دهند تا به کمک این قرضه ها بتوانند صاحب خانه و سرپناه گردیده و حد اقل از فشار کرایه‌ء خانه بیرون شوند.

با استفاده از تجربه‌ء کشور مالیزیا؛ اداره‌ء قوی و مستقلی بخاطر رفاه و حمایت از حقوق معلمین ایجاد گردد تا به شکل دوامدار و در سطح کشور بخاطر بهبود سطح زندگی معلمین کشور کار وتلاش نماید. چنین یک اداره ای می تواند با جذب کمک‌های بیرونی، دروازه های زیادی را بروی استادان به شمول همکاری با معلمین مصیبت زده و بی بضاعت معارف کشور، باز نماید.

# د ملګرو ملتونو عمومي اسمبلۍ ۷۵یمه ناسته او د قدرتونو ناندرۍ

سیدالرحمن سالار

دا ځل د ملګرو ملتونو د عمومي اسمبلۍ ناسته له یوې خوا د کرونا ویروس له اغېزو خوندي نه وه او د یاد ارګان په ۷۵ کلن تاریخي مزل کې دا لومړی ځل دی چې د غونډې تالار ته د هر هېواد یوازې یو ډیپلومات د ننوتلو حق لري او څوکۍ تر ډېره خالي او د غړو هېوادونو مشرانو د وېډیو له لارې خپلې ویناوې واورولې.

خو پر دې سربېره، دا ځل ښایي د خپل تاریخ په اوږدو کې تر ټولو له ناندریو ډکه اسمبلۍ وي. پوښتنه دا ده چې دغه ناندرۍ پر نړیوال وضعیت کومې احتمالي اغېزې درلودلای شي؟

دې پوښتنې ته له ځواب مخکې به د ملګرو ملتونو تاریخ ته لنډه کتنه وکړو.

**ملګري ملتونه یا (UN)**

ملګري ملتونه یو نړیوال سازمان او د ملتونو لیګ یا ټولنې ځای ناستی دی، چې په ۱۹۱۹ کال کې له لومړۍ نړیوالې جګړې وروسته په راتلونکې کې د نړیوالې جګړې د رامنځ ته کېدو د مخنیوي په موخه جوړ شوي دي. په ۱۹۳۹ کال کې د دویمې نړیوالې جګړې په پیلېدو سره د ملتونو ټولنه عملاً ختمه شوه.

په ۱۹۴۵ کال او نړیوالې جګړې له ختمېدو وروسته، د ملګرو ملتونو منشور اجرا او یاد سازمان خپل کار پیل کړ. شعار یې د نړیوال امنیت ساتل، له بشري حقونو دفاع، له نړیوالو حقوقو څخه ملاتړ، د بشردوستانه مرستو رسول او ... دي.

په لومړیو کې یې ۵۱ هېوادونه غړي وو، خو اوس یې د غړو شمېر ۱۹۳ ته رسېدلی دی.

**دغه سازمان شپږ مهم ارکان لري:**

عمومي اسمبلۍ (د ملګرو ملتونو سازمان مشورتي، نړیوال او اصلي رکن)، امنیت شورا (د نړیوال امنیت او سولې لپاره د تصمیم نیولو اصلي مرجع)، د ملګرو ملتونو اقتصادي او ټولنیزه شورا، د ملګرو ملتونو دارالانشاء او د عدالت نړیواله محکمه.

د ملګرو ملتونو قیمومیت شورا د ۱۹۹۴ کال د نومبر په لومړۍ نېټه کار پیل کړی. ملګري ملتونه پر یادو شپږو اصلي ارکانو سربېره، د نړیوال بانک پلاوی، د روغتیا نړیوال سازمان، د خوړو نړیوال پروګرام، یونسکو او یونیسف ارګانونه هم لري.

تر ټولو مهم ارګان یې امنیت شورا ده چې(امریکا، برېټانیا، فرانسه، چین، روسیه) پنځه دایمي غړي لري او همدا پنځه غړي د وېټو حق هم لري.

په حقیقت کې همدا پنځه غړي د نړۍ د برخلیک اصلي ټاکونکي دي، نو څکه ډېری هېوادونه غواړي چې باید د نړۍ برخلیک ټاکلو کې ټول هېوادونه مساوي ونډه ولري او د دې کار لپاره د ملګرو ملتونو په جوړښت کې اصلاحات اړین ګڼي، خو ځینې نور بیا د یادو پنځو هېوادونو د وېټو حق پر خوندیتوب ټینګار کوي چې دا یو مهم اختلافي ټکی ګڼل کېږي.

**د قدرتونو سیالۍ**

که څه هم د نړۍ د سترو قدرتونو تر منځ اعلان شوې جګړه نشته، خو په عمل کې په ډېرو جګړو کې د لویو قدرتونو رول پټ نه دی او یو له بل سره عملاً د نیابتي او اقتصادي جګړې په حال کې دي.

له بلې خوا د ټکنالوژۍ له پرمختګ سره د اقلیمي بدلونونو ستونزو رامنځ ته کېدل هم د اندېښنې وړ دي. که څه هم د اقلیمي بدلون د مخنیوي په موخه نړیوالې ژمنې شوې، خو په عمل کې دغه ژمنې یوازې د کاغذ پر مخ تر لیکلو محدودې پاتې شوې او ځینې قدرتونه ځانونه د دې ژمنو پوره کولو کې مسوول نه ګڼي.

دا ټول د دې ښودنه کوي چې نړۍ تر بل هر وخت په ډېر حساس پړاو کې قرار لري.

پر دې سربېره، ځینې هېوادونه د ملګرو ملتونو له مشورې او هوکړې پرته په خپل سر اقدامات کوي او د ملګرو ملتونو باور ته یې زیان رسولی.

**له ناندریو ډکه ۷۵یمه اسمبلۍ**

د ملګرو ملتونو سرمنشي انتونیو ګوتریش د عمومي اسمبلۍ ۷۵یمې غونډې په پرانیستونکو مراسمو کې د وینا پر مهال د راتلونکو ننګونو په اړه خبرداری ورکړ. نوموړي د سړې جګړې خطر په اړه د خبرداري په ورکولو سره وویل چې نړۍ د داسې اختلافونو د زغم توان نه لري.

ګوتریش پرته له دې چې د کوم هېواد نوم واخلي، خو له خبرو یې داسې ښکاري چې اشاره یې چین او امریکا ته وه، زیاته کړه چې موږ په ډېر خطرناک مسیر کې قرار لرو او نړۍ د داسې راتلونکې توان نه لري چې دوه لوی اقتصادي قدرتونه دې نړۍ دوې ټوټې کړي.

د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ په خپله وینا کې وویل چې ملګري ملتونه باید د کرونا ویروس د خپرېدو په خاطر له چین څخه د خپلو اقداماتو په اړه پوښتنې وکړي.

ټرمپ په خپل ویډیویي پیغام کې له برجام څخه د امریکا وتلو، پر ایران د سختو بندیزونو وضع کېدو او د سپاه پاسداران د پخواني قوماندان قاسم سلیماني وژل کېدو ته هم اشاره وکړه.

د چین ولسمشر شي جین پینګ وویل چې هېواد یې د کرونا ویروس د خپرېدو له مخنیوي سره د مبارزې لپاره د نړیوالې همکارۍ غوښتونکی دی او له هېڅ هېواد سره د سړې جګړې نیت نه لري. شي جین پینګ د تمدنونو د ټکر د خطرونو په اړه هم خبرداری ورکړ.

د ایران ولسمشر امریکا ته په خطاب کې وویل چې نور د سلطې او خپلسرۍ وخت ختم شوی او امریکا نه پر ایران خبرې تپلی شي او نه هم جګړه.

د روسیې ولسمشر ولادیمیر پوتین په خپله وینا کې د ناټو د دایمي غړو د ویټو حق پر اړتیا ټینګار وکړ او وویل چې احتمالي اصلاحات باید د امنیت شورا له پنځو دایمي غړو دا حق وانه‌خلي.

د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوغان بیا وویل چې د ملګرو ملتونو د نفوذ د بیا زیاتېدو لپاره دې په لومړي قدم کې د امنیت شورا جوړښت اصلاح شي.

نوموړي زیاته کړه چې د نړۍ له ۷ میلیاردو ډېرو انسانانو برخلیک یوازې پنځه هېوادونه ټاکي، دا نه یوازې عادلانه نه دی، بلکې د پایښت وړتیا هم نه لري او اصلاح یې اړینه ده.

د سعودي عربستان پاچا بیا خپله وینا تر ډېره پر ایران نیوکو ته بېله کړې وه او له نړیوالو یې وغوښتل چې ایران ته دې د ډله ییزې وژنې وسلې تر لاسه کولو اجازه نه ورکوي.

ملک سلمان خبرداری ورکړ چې د سعودي دولت به د خپل ملي امنیت د دفاع لپاره په هېڅ وجه لټې او کوتاهي ونه کړي.

دې ټولو ناندریو ته په پام، داسې اندېښنې پیدا کېږي چې که وضعیت همدسې دوام وکړي، نو نړۍ به بد لوري ته روانه شي او په تېره بیا هغه هېوادونه به سخت وځپل شي چې لا تر اوسه یې اقتصاد پر نورو تکیه کوي.

# سوله او د دوحې سفر:

## شنونکي: امریکا غواړي افغان لوری او طالبان پوه کړي چې د سولې راوستل حتمي دي



ولسمشر غني د افغانستان په حساسو شرایطو کې دوحې ته تللی دی. په دوحه کې بین الافغاني خبرې له خنډ او ځنډ سره مخ شوې دي، نړیوال د تاوتریخوالي د کمولو غوښتونکي دي، د جګړو درېدل غواړي او په افغانستان کې بیا خونړۍ جګړه روانه ده. له دې سره جوخت ولسمشر غني دوحې ته تللی او هلته به د قطري چارواکو ترځنګ له امریکایي چارواکو سره ګوري. ولسمشر به دوې ورځې په دوحه کې وي او اټکل کېږي چې دا سفر به د افغان سولې لپاره مهم وي.

ولسمشر غني تېره ورځ سهار وختي د یوه لوړپوړي پلاوي په ملتیا لومړی کوېټ ته لاړ او تر هغه وروسته دوحې ته په دوه ورځني سفر تللی دی. ولسمشر غني د کوېټ د مخکیني امیر د فاتحې په مراسمو کې ګډون وکړ او تر هغه وروسته دوحې ته راغی او دمګړۍ په دغه پلازمېنه کې دی. د ارګ له مطبوعاتي دفتره په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي چې ولسمشر به په دې سفر کې د قطر له امیر، لومړي وزیر او له امریکایي لوري به له خلیلزاد او سکاټ مېلر سره ګوري.

د ارګ له مطبوعاتي دفتره په خپره شوې اعلامیه کې راغلي چې ولسمشر به له قطري چارواکو سره د لیدنې تر څنګ د افغان سولې په اړه د قطر د شخړو د حل مرکز کې د سولې په اړه وینا هم وکړي. د سرچینې په خبره: ((په پام کې ده چې جمهور رییس غني په پلازمېنه دوحه کې د قطر امیر، لومړي وزیر او نورو مقاماتو سره پر کتنو سربېره په دوحې انسټیټیوټ کې ډیپلوماتانو، استادانو، پوهانو او محصلینو ته وینا هم وکړي)).

بلخوا رسنیو راپور ورکړی چې ولسمشر غني په دوحه کې د افغان حکومت له مذاکراتي پلاوي سره کتلي او پر شته خنډونو یې بحثونه ورسره کړي دي. په دوحه کې د افغان حکومت پلاوی له ۲۴ ورځو راهیسې له طالبانو سره د ستونزو پر حل بحثونه کوي، خو یوه اونۍ کېږي چې خبرې په ټپه ولاړې دي او د دواړو لورو ترمنځ د ځینو مواردو پر سر د نظر اختلاف پیدا شوی دی.

له دې سره هممهاله یو شمېر شنونکي بیا وایي چې ولسمشر غني قطر ته غوښتل شوی، څو د سولې په لار کې له خنډ جوړولو ډډه وکړي او امریکا غواړي ولسمشر غني ته واضح کړي چې امریکایان له افغانستانه وتونکي دي، نو ولسمشر غني ته هم په کار ده چې د سولې د پروسې له پرمختګ سره همکاري وکړي. د سیاسي مسایلو شنونکی فضل الرحمن اوریا وایي، ولسمشر غني له ډېرې مودې راهیسې یو ډول د سولې پروسې په ځنډولو تورن شوی دی. نوموړی دغه راز وایي چې قطر ته تللی پلاوی هم په رښتینې توګه هڅه نه کوي چې جګړه ودرېږي او مذاکرات مخ ته لاړ شي. د ده په خبره: ((ولسمشر غني قطر ته غوښتل شوی، څو په دې وپوهول شي چې د سولې پروسه ټکنۍ نه کړي، خنډ جوړ نه کړي، ولسمشر دې ته قانع کړي چې څنګه په یوه میکانېزم واک نویو واکدارانو ته انتقال کړي)).

فضل الرحمن اوریا وایي چې حکومت په ظاهري توګه هڅه کوي وښیي چې ګواکې دوی د دوو اړخیزو اړیکو جوړولو لپاره تللي وو، خو اصلي مسئله بله ده. د ده په خبره: ((ټول تمرکز به په دې وي چې ولسمشر باید خنډ جوړ نه کړي، هم مېلر او هم خلیلزاد غواړي دا خبره ولسمشر ته واضح کړي چې امریکا د ولسمشر غني د قدرت ساتلو لپاره دلته نه شي پاتې کېدلی)).

د سیاسي چارو بل شنونکی فیض الله ساپی هم پر دې باور دی چې ولسمشر غني د خبرو د وضاحت لپاره بلل شوی او امریکا غواړي ولسمشر ته واضح کړي چې د خنډ په جوړولو افغانستان ته ګټه نه شي رسولی. د ده په خبره: ((ولسمشر یې غوښتی، غواړي ورته ووایي چې نور خنډ مه جوړوه، تر هغې وروسته به بېرته کابل ته راځي)).

له دې سره همهاله په عامو افغانانو کې دا هیله مندي ډېره شوې چې ګواکې ولسمشر غني به د اوربند او دایمي سولې لپاره قطر ته تللی وي او د دې تمه ده چې دلته د جګړو د پای لپاره یو غوره فرصت رامنځ ته شي.

# د نګورنو قره باغ د جګړې دوام؛

## راپورونه: د ارمنستان او اذربایجان د پوځیانو ترمنځ په نښتو کې له ۲۵۰ ډېر کسان وژل شوي دي

له نړیوالو هڅو سره سره، د اذربایجان او ارمنستان ځواکونو اوربند ته غاړه نه‌ده ایښې او نږدې دوې اونۍ کېږي چې په نګورنو قره‌باغ کې خونړۍ نښتې روانې دي. دواړې خواوې یو بل پر ښارونو او د استوګنې پر سیمو د راکټي بریدونو د پیل لپاره ګرم بولي.

د نګورنو قره‌باغ سیمې چارواکو ویلي چې د دوی په پلازمېنه ستپانکرت/خان کندي باندې اذربایجاني ځواکونو د سهار وختي راهیسې د راکټونو بریدونه پیل کړي. د ستپانکرت ځینو عامو خلکو د فرانسې خبري اژانس ته ویلي، همدا چې د خطر زنګ واوري، د خپلو کورونو ځمکتلو ته کوزېږي.

۵۵ کلنه هنرمنده سوسانا اسراییلیان هم له نورو خلکو سره یوې تهکاوۍ ته کوزه شوې ده. هغه وایي: «موږ همدلته نږدې اوسو. د خطر زنګ چې واورو، کور ته نږدې همدې تهکاوۍ ته کوزېږو. موږ چې کله وتلی نه‌شو، نو خوراک او نور لازم مواد رارسېږي، خو له کلونو په وېره او ترهه کې اوسو. دا مسئله په دې رقم نه‌هوارېږي.»

له سوزانا سره شاوخوا ګڼ ماشومان، ښځې او زاړه خلک هم ټول له روانې جګړې او مرګ‌ژوبلې په وېره کې دي. ځوانان د جګړې لومړۍ کرښې ته تللي او کورنۍ یې وایي چې له مرګ او ژوند یې نه‌دي خبر. د نګورنو قره‌باغ په لانجمنه سیمه باندې تېره یکشنبه اذربایجان او ارمنستان توده جګړه پیل کړې او تر دې دمه‌یې د اوربند په خاطر د نړیوالې ټولنې او د سیمې د هېوادونو ټینګار او غوښتنو ته پام نه‌دی کړی. په راپورونو کې تر دې دمه دواړو خواو ته له ۲۵۰ د ډېرو کسانو د وژل کېدو خبره شوې ده.

اوس ویل شوي چې لانجه له سرحدي سیمو د دواړو خواو نږدې ښارونو ته په دې غځېدلې چې ښارونه او استوګنې سیمې په راکټونو لګېدلي دي. اذربایجان ویلي چې د دوی دویم لوی ښار ګنجه د ارمنستان له‌خوا په راکټونو لګېدلی، خو د ارمنستان دفاع وزارت دا ادعا رد کړې ده.

د اذربایجان ولسمشر الهام علییف بیا ارمنستان ته ګواښونه کړي او ویلي یې دي جنګ به تر هغو دوام لري چې ارمنستان د ده په خبره، اشغال شوې سیمې نه‌وي پرېښې. هغه ویلي: «د ارمنستان مشرتابه باید مخکې له دې چې ډېر ناوخته شي غور وکړي. هغه اووه شرطونه مخته کړي. ته څوک‌یې چې موږ ته شرطونه ږدې؟ وبه ګورو چې اوس دې شرطونه څه دي. ته به د اوربند لپاره په زاریو شې.»

په ورته وخت کې اروپایي ټولنې او د سیمې هېوادونو د ارمنستان او اذربایجان په خونړیو بریدونو کې پر مرګ‌ژوبلې اندېښنه څرګنده کړې ده. د اروپایي ټولنې د بهرني سیاست او امنیتي پالیسیو مشر جوزف بورېل پر خپل ټویټر لیکلي چې د ارمنستان او اذربایجان د بهرنیو چارو له وزیرانو سره ټلیفوني غږېدلی دی. هغه ویلي چې جګړه باید سمدستي ودرېږي او د اروپا د امنیت او همکارۍ سازمان په مشرۍ دواړه خواوې ژر تر ژره خبرې پیل کړي.

د کتـــاب خبـــرې

## افغانستان او سیمه‌ییزه همکاري فرصتونه او ستونزې

لیکوال : څېړندوی محمد سرور احمدزی

### څلورم فصل

### د سیمه‌ییزې همکارۍ پروړاندې پرتې ستونزې




**ح ـ د سیمې د اوسېدونکو ترمنځ کمزورې ټولنیزې اړیکې**

د سیمې د اوسېدونکو ترمنځ ټولنیزې اړیکې ډېرې کمزورې دي، ځکه چې په سیمه کې د خلکو د تگ راتگ پر وړاندې ډېرې ستونزې او خنډونه موجود دي .تر ټولو ستر خنډ جگړه، ناامني او د ویزو ورکولو په برخه کې ستونزې دي ، له همدې امله په سیمه کې د خلکو ترمنځ تگ راتگ محدود او لږ دی . د خلکو ترمنځ کمزورې ټولنیزې اړیکې د دې سبب شوي چې د سیمې اوسېدونکي د خپلې سیمې په اړه محدود او لږ معلومات ولري او د معلوماتو،د اړیکو نشتون د سیمې د هېوادونو د اوسېدونکو ترمنځ د پوهاوي رامنځته کېدو او د گډ هویت د جوړېدو مه نیولې .د سیمې د اوسیدونکو ترمنځ کمزورې ټولنیزې اړیکې د سیمې د هېوادونو ترمنځ د اړیکو او د سیمه‌ییزې همکارۍ د پراختیا پر وړاندې جدي خنډ گڼل کېږي .

**ط ــ د اعتماد او باور نشتون**

زموږ په سیمه کې د ډېرو هېوادونو سیاسي او حکومتي مشران پر یو بل باندې باور او اعتماد نه لري، په سیمه کې د همکاریو هر ډول اقدام ته د شک په سترگو گوري . په حقیقت کې په سیمه کې اوس هم له یوه لوري هم همغه پخواني افکار او عقاید پر خپل ځای پاتې دي او د سیمې د مشرانو په افکارو او عقایدو کې ډېر بدلون نه لیدل کېږي او له بل لوري سیمه‌ییز او نړیوال سیاسي حالات او له سترو قدرتونو سره د سیمې د هېوادونو اړیکې په سیمه کې د بې اعتمادۍ او بې باورۍ د رامنځته کېدو سبب شوي، د سیمې د هېوادونو د مشرانو ترمنځ بې اعتمادي او بې باوري د سیمه‌ییزې همکارۍ د پراختیا پروړاندې مهمه ستونزه گڼل کېږي .

**ی ـ له مرکزي اسیا سره کمزورې اړیکې**

د مرکزي اسیا له هېوادونو سره د افغانستان سوداگریزې اړیکې کمزورې دي، خو د پراختیا لپاره یې ډېر فرصتونه موجود دي . په وچې پورې د افغانستان او مرکزي اسیا هېوادونو تړل کېدل د سوداگریزو اړیکو د پراختیا پروړاندې مهمه ستونزه گڼل کېږي . په افغانستان کې د مرکزي اسیا هېوادونو له لوري د مستقیمې بهرنۍ پانگونې اندازه ډېره لږه ده، خو افغانستان له مرکزي اسیا څخه جنوبي اسیاته د انرژۍ د لېږد مهمه لار گڼل کېږي .د انرژۍ، کانونو، کرنې، د اوبو مدیریت، ترانسپورت او سوداگرۍ په برخو کې د افغانستان او د مرکزي اسیا د هېوادونو ترمنځ د همکارۍ په موخه ډېر فرصتونه او ظرفیتونه موجود وو، خو له دغو ظرفیتونو او فرصتونو څخه پوره او په سمه توگه استفاده نه ده شوې، د بېلگې په توگه د افغانستان، مرکزي اسیا هېوادونو او پاکستان ترمنځ د سوداگرۍ اندازه لږه ده او د دغو هېوادونو د بهرنۍ سوداگرۍ ٦.٢ سلنه برخه جوړوي. د مرکزي اسیا هېوادونو مشران غواړي چې له افغانستان سره له ډېر نږدیوالي او تماس څخه ډډه وکړي او په دې توگه ځانونه په افغانستان کې د روان بحران له منفي پایلو او په ځانگړې توگه خپلو هېوادونو ته د کډوالو د ورتگ مخه ونیسي . د مرکزي اسیا او جنوبي اسیا ترمنځ نږدې او اسانه ځمکنۍ لار له افغانستان څخه تېرېږي او افغانستان کولای شي په وچې پورې تړلي د مرکزي اسیا هېوادونه له جنوبي اسیا سره ونښلوي . د مرکزي اسیا د هېوادونو او افغانستان په پالیسیو کې د مثبتو بدلونونو رامنځته کېدل به د سیمه‌ییزې همکارۍ له پراختیا سره مرسته وکړي .

**پایله**

موږ د خپلې څېړنې په پایله کې ویلی شو چې د سیمه‌ییزو زېربنایي پروژو او د سوداگرۍ د پراختیا په موخه د پالیسیو جوړول د سیمه‌ییزې همکارۍ له پراختیا سره مرسته کولای شي. د سیمه‌ییزې همکارۍ پراختیا د افغانستان د ملي پرمختیا په ستراتیژۍ کې ځانگړی ځای درلود. سیمه‌ییزه همکاري په سیمه کې د سولې او ثبات له ټینگښت سره ډېره مرسته کولای شي او د افغانستان لپاره یې د دې زمینه برابره کړې چې د مرکزي او جنوبي اسیا او منځني ختیځ ترمنځ مهم او وصل کوونکی رول ترسره کړي . افغانستان د سیمې هېوادونو ترمنځ د سوداگرۍ له پراختیا څخه د پام وړ گټې ترلاسه کولای شي، ځکه چې افغانستان د جنوبي او مرکزي اسیا ترمنځ د پول حیثیت لري، مرکزي اسیا له جنوبي اسیا سره نښلوي او د مرکزي او جنوبي اسیا هېوادونو ترمنځ د سوداگرۍ او ترانزیټ څخه د پام وړ عواید ترلاسه کولای شي . د سیمه‌ییزې سوداگرۍ د پراختیا پروړاندې ستونزې شته چې لرې کول به یې د سوداگرۍ له پراختیا سره مرسته وکړي او په دې توگه به د سیمې هېوادونو سوداگر وکولای شي د یو بل مارکیټونو ته ازاد لاسرسی پیدا کړي. سیمه‌ییزه همکاري د انرژۍ د لېږد لپاره هم مهمه گڼل کېږي، د سیمه‌ییزې همکارۍ لپاره ډېر میکانیزمونه رامنځ ته شوي، خو د سیمې د ټولو هېوادونو ترمنځ د سوداگرۍ په اړه یو واحد سوداگریز تړون لاسلیک شوی نه دی .

**دوام لري...**

# شیخ صباح احمد

سفیق امیرزی



د کویټ امیر شیخ صباح احمد جابر صباح په ۹۱ کلنۍ کې له څوارلس کاله حکومت وروسته ومړ. هغه کلونه مخکې د رایو په اکثریت د کویټ د امیر په توگه وټاکل شو او عملاً پر دې هېواد حاکم شو. هغه مهال چې د کویټ حکومت د جسمي کمزورۍ له امله د کویټ مخکینی امیر شیخ سعد عبدالله له دندې گوښه کړ، ټول په دې باور وو چې شیخ صباح به یې ځای ناستی شي او واک به ده ته ورسېږي؛ ځکه پراخ نفوذ یې درلود او تر دې وړاندې یې په بهرنیو چارو وزارت کې خپل لیاقت او کویټ ته وفاداري ثابته کړې وه. شیخ سعد عبدالله له دې پېښې وروسته دوه اونۍ نور ژوندی و او بیا واک صباح احمد ته ولېږدول شو. شیخ صباح له دوو لسیزو راهیسې د زړه تکلیف درلود او د ځانگړې الکترونیکي وسیلې په مرسته یې د زړه ضربان او حرکات تنظیمېدل.

شیخ صباح د امیر احمد په کور کې په ۱۹۲۹ز کال کې وزیږېد. دی یې څلورم زوی و. د کویټ په مبارکیه ښوونځي کې یې زده کړې پیل کړې. دا په کویټ کې لومړنی جوړ شوی ښوونځی و، چې په ۱۹۱۱ز کال کې جوړ شو او د کویټ د هغه وخت ډېری سیاسي مشران د همدې ښوونځي زده کوونکي وو. د دې تر څنگ یې پلار د دې پلوی و چې شیخ صباح باید ځانگړې زده کړې وکړي، یو ځانگړی استاد ولري او د نړۍ د هېوادونو له سیاسي جریان باید ځان خبر کړي. هغه ته یې د زده کړو تر څنگ زمینه برابره کړه چې ځینو هېوادونو ته سفرونه وکړي او د سیاست په اړه خپله مطالعه ډېره کړي. جابر له همدې سره سم د اروپایي او ډېرو اسیاسي هېوادونو تجربې ولیدې، د دوی د سیاست څرنگوالی یې تر نظر تېر کړ او غوښتل یې له تجربو په استفادې د خپل هېواد لپاره کار وکړي. لږ وروسته یې له پلار سره چې له ۱۹۲۱ تر ۱۹۵۰ز کال پورې یې حکومت وکړ، دربار ته راغی. خپله لومړنۍ رسمي دنده یې په حکومت کې په ۱۹۵۴ز کال کې واخیسته او دا مهال یې پنځه ویشت کاله عمر درلود. دی له ۱۹۵۵ز کال تر ۱۹۶۱ز کال چې دا مهال کویټ د برېټانیا له استعمار ووت، د حکومت د عالي هیئت غړی و. په ۱۹۶۳ز کال کې وروسته تر دې چې د یوه کال لپاره د اطلاعاتو وزیر و، د بهرنیو چارو وزارت ته لاړ او پوره څلوېښت کاله د کویټ د بهرنیو چارو وزیر پاتې شو. دی یو تکړه ډیپلومات و او پوره څلوېښت کاله یې په بشپړه بریا د کویټ د بهرنیو چارو د وزارت چارې سمبال کړې. هغه په نړۍ کې د یوه تکړه ډیپلومات په توگه مشهور شو او خورا پیاوړی و. دی د هغه هیئت مشر هم و، چې د لومړي ځل لپاره د کویټ له هېواده د ملگرو ملتونو سازمان ته لاړ. دا لومړی ځل و چې کویټ د ملگرو ملتونو د سازمان غړیتوب خپل کړی و او په عمومي اسامبلۍ کې یې هیئت د جابر په مشرۍ گډون وکړ.

د شیخ صباح تگلاره داسې وه چې باید د عربو د دې شتمن خو واړه هېواد لپاره یې د نړۍ په کچه نږدې دوستان پیدا کړي وای. هغه له همدې امله له ډېرو هېوادونو سره د کویټ د اړیکو جوړولو لپاره طرحې جوړې کړې او عملاً یې د خپل هېواد د ثبات او نړیوال هویت د ټینگولو لپاره کار کاوه. ده د ډېرو هېوادونو له مشرانو سره لیده کاته لرل، د کویټ او ایران ترمنځ اړیکې ترینگلې وې، خو د شیخ صباح د تگلارې او سیاست له لارې عادي او سمې شوې. نوموړي د دې اړیکو په جوړولو کې خورا اغېزناک رول درلود. په ۱۹۹۰ز کال کې چې صدام پر کویټ برید وکړ، نو همدا شیخ صباح و چې د نړیوالو پام یې د کویټ ژغورلو ته واړاوه، لابي یې وکړه، له نړیوالو یې د نظامي مرستې غوښتنه وکړه او په دې بریالی شو چې کویټ د صدام له بریده وژغوري.

وروسته له دې چې په ۲۰۰۱ز کال کې د شیخ جابر ورور سکته وکړه او ومړ، نو شیخ صباح به پخپله د ملگرو ملتونو کلنیو غونډو ته تللو او ویناوې به یې کولې. شیخ صباح نه یوازې دا چې د کویټ د بهرنیو چارو په تنظیم کې خورا مخکښ او بریالی و، بلکې د دغه هېواد په کورنیو چارو کې یې هم فعال رول درلود او کارونه یې د ستاینې وړ وو.

د ۱۹۷۸ز کال په فبرورۍ کې شیخ جابر د دربیم صباح پر ځای واک ته ورسېد. شیخ صباح دا مهال هم د بهرنیو چارو وزیر و او هم د لومړي وزیر مرستیال و. دا څوکۍ یې یوازې د لنډې مودې لپاره هغه مهال پرېښوه، چې په خلیج کې لومړنۍ جگړه وشوه، تر هغې وروسته بیا تر ۲۰۰۳ز کال پورې د لومړي وزیر مرستیال و. د همدې کال په جولای کې چې د شیخ جابر روغتیایي وضعیت مخ په خرابېدو و او ولیعهد یې شیخ سعد هم د ډاډ وړ وضعیت نه درلود، نو شیخ جابر د یوه تاریخي فرمان له لارې د ولیعهد او لومړي وزیر څوکۍ بېلې کړې. دا مهال به ولیعهد لومړی وزیر هم و، خو شیخ جابر دا څوکۍ سره بېلې کړې او شیخ صباح یې د کویټ لومړی وزیر وټاکه.

په دې سره شیخ صباح د پراخو صلاحیتونو خاوند شو. هغه اصلاح غوښتونکی شخصیت و، نو له ټولو صلاحیتونو په استفادې یې د شیخ جابر د اصلاحي برنامو عملي کولو ته مخه کړه. دې ده د واکمنۍ پر مهال و چې د کویټ په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره یوه مېرمن د وزارت مقام ته ورسېده. په همدې وخت کې د هغو وسله‌والو ډلو ځپل هم پیل شول چې د حکومت او ځینو شخصیتونو پر ضد یې فعالیتونه کول او د کویټ ثبات ته یې خطر جوړ کړی و. د ښوونځیو او دیني مدرسو درسي نصاب بدل شو او انسان دوستۍ، متقابل احترام او بشرپالنې ته پکې ډېره پاملرنه وشوه. د کلونو په تېرېدو شیخ صباح په کویټ کې د اصلاحاتو او مډرنې حکومتولۍ لړۍ ته ادامه ورکړه او ورو ورو شیخ صباح په عربي هېوادونو کې د غربي هېوادونو په تر ټولو نږدې ملگري بدل شو. ده د کویټ لپاره واضح سیاسي تگلاره وټاکله او د همدې تگلارې پر بنسټ یې له هېوادونو سره د اړیکو د پاللو لپاره هڅې پیل کړې. هغه له غربیانو سره دومره نږدې شو، چې په ۲۰۰۳ز کال کې یې امریکایانو ته پر عراق د برید لپاره د کویټ د خاورې کارولو اجازه ورکړه. امریکایانو هغه مهال په کویټ کې سترې نظامي اډې جوړې کړې چې په عراق کې یې د یوې خونړۍ او شدیدې جگړې لپاره کارولې. هغه مهال گومان کېده چې عراق اټومي وسلې لري او امریکا په همدې بهانه پر عراق برید وکړ، نو کویټ ته د هر راز خطر جوړېدو احتمال و، خو کویټ له امریکا سره دا هر څه منلي وو. اوس هم ډېر امریکایي عسکر په ځینو نظامي اډو کې په کویټ او قطر کې حضور لري.

کویټ د ټولې نړۍ د تېلو لس سلنه سرچینې په واک کې لري، نو د شیخ صباح یو مسوولیت له دغو سرچینو د سمې استفادې مدیریت و. شیخ صباح د کویټ د تېلو د عالي شورا مشر و او په دې برخه کې یې هم کارونه او فعالیتونه د پام وړ دي.

له دې سره هممهاله شیخ صباح هڅه وکړه چې د نړۍ د هېوادونو تر منځ د اړیکو په ښه کولو کې مرسته وکړي او بشریت ته د ښه ژوند زمینه برابره کړي. هغه په نړۍ کې د خلکو او هېوادونو تر منځ د کشمکشونو د کمولو هڅه هم کوله. د بېلگې په توگه، د اسلامي همکاریو سازمان دی د هغه غونډې مشر وټاکه چې باید د بنگلدیش او پاکستان تر منځ یې ولاړه شوې ستونزه حل کړې وای. هغه مهال بنگلدیش نه و بېل شوی، د شیخ صباح په مشرۍ دې کمېټې بنگلدیش ته ازادي ورکړه او پر پاکستان یې هغه د یوه مستقل هېواد په توگه ومانه. د عرب لیگ له لوري د ډېرو هغو غونډو او ناستو مشر وټاکل شو، چې باید په لبنان کې یې سیاسي اختلافونه ختم کړي وای. د ایران او عراق جگړې په ختمولو کې یې برخه لرله او د متحده عربي اماراتو په رامنځ ته کېدو کې یې د پام وړ رول لوبولی دی. دا ټول هغه مسایل وو چې کویټ یې په سیمه او نړۍ کې د باور وړ هېواد وگرځاوه. ملگرو ملتونو په پرله پسې توگه کویټ او د کویټ امیر د بشري حقونو د خوندیتابه په برخه کې وستایه او نړیوال مسوولیتونه یې وروسپارل. کویټ د ملگرو ملتونو په چوکاټ کې په ټوله نړۍ کې له همدې وروسته په بشري خدماتو کې د پام وړ رول ادا کاوه او د بشري ژوند د ښه کېدو لپاره یې د خیریه کارونو تر څنگ، د هغو فعالیتونو په تر سره کولو کې مهم رول لوباوه، چې د بشري ژوند او بشري مرستو په برخه کې په نړیواله کچه تر سره کېدل. د امیر صباح د حکومت پر مهال کویټ د بېوزله اسلامي هېوادونو د پرمختگ لپاره د ډېرو نړیوالو کنفرانسونو کوربه‌توب وکړ.

دا یوازې هغه کارونه نه وو چې شیخ صباح د کویټ لپاره وکړل. هغه د علم، فرهنگ، ادبیاتو، ټکنالوژۍ او تېلو د استخراج په برخه کې پراخه پانگونه وکړه او هڅه یې دا وه چې کویټ په ټولو یادو اړخونو کې خپل ځانگړی ځای ولري او پر هېچا متکي نه وي. هغه په علمي برخه کې د ښوونیزو، تعلیمي او تحصیلي مرکزونو په پراختیا او وده کې د پام وړ کارونه تر سره کړي دي او له نورو هېوادونو سره یې علمي اړیکو ته په درنه سترگه کتل.

د شیخ صباح فعالیتونه په دوو برخو کې د اهمیت وړ دي چې یو یې ډیپلوماتیک او بل یې هم بشري خدمات دي. په ډیپلوماتیکه برخه کې یې د یوه رښتیني ډیپلومات دنده تر سره کوله او له کویټ نیولې چې له نړیوالو سره یې اړیکې شوې، بیا تر نورو هېوادونو لکه پاکستان او بنگلدیش چې د ده په وخت کې یې ستونزه ختمه شوه، ټول هغه مهم کارونه دي چې شیخ صباح کړي دي. د بشري حقونو او بشري خدماتو په برخه کې هغه دومره مشهور نوم و چې ملگرو ملتونو به تل ستایه او په دې برخه کې د تر سره کېدونکو فعالیتونو لویه تکیه به پر کویټ او امیر صباح کېده.

پر شیخ صباح یې هېواد گران و. د ده په باور، کویټ یوازې له یوې لارې دومره بریا ته رسېدلی او هغه د اتحاد او یووالي لار ده. نوموړي د پوځ پر پیاوړتیا ټینگار کاوه، خو د خلکو له همکارۍ پرته یې پوځ ناتوانه باله. ده به ویل، د هېواد هر وگړی سرتېری دی او هېڅ وگړی باید هغه کس ته په کویټ کې د ناستې ولاړې اجازه ور نه کړي چې په دغه هېواد کې د نفاق، تخریب او تاوتریخوالي سبب گرځي. شیخ صباح د کویټي وگړو تر منځ ځانگړې محبوبیت درلود او د هغه ویناوې به خلکو په شوق اورېدې. نوموړي د تېلو استخراج، روغتونونو، پوهنتونو، مواصلاتي لارو، ترانسپورت، پلونو د رغولو او سمندري حمل او نقل په برخه کې په کویټ کې سترې پروژې پیل کړې او پلې کړې دي چې په سیمه کې یې ساری نه لیدل کېږي. بالاخره د کویټ د ملت دغه ستر خدمتگار د ۲۰۲۰ز کال د سپټمبر په ۲۹مه د وروپښې ناروغۍ له امله ومړ. دې مسئلې د کویټ خلک خواشیني کړل او د هغه مړینه یې د کویټ لپاره ستره‌ضایعه‌وبلله.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷،۰۵ |
| € | ۸۹ |
| Rp. | ۴۵۳ |
| ₹ | ۱۰۴۰ |
| ¥ | ۱۰،۶۰ |
| £ | ۹۷ |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیايي مرکز
166

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
ایډیټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
گرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

همیانی

# د ژوند محدودیتونه مو له منځه یوسئ!

ژباړه: امان الله «حنیفي»

څو کلونه مخکې د رهبرۍ په اړه د مکسویل په یو سمینار کې د نیکلاس جیمزووی په نوم له یو عجیب کس سره مخ شوم. دغه کس زما د یو مشاور په واسطه دغه سمینار ته راغلی و.

نیک یو الهام ورکوونکی کس و، هغه د یو خوش طبعه شخصیت درلودو په اړه عجیب فکر او نظر درلود. هغه څو دېرش کلن و چې پنځه کتابونه یې لیکلي وو، په دوو فیلمونو کې یې رول لوبولی و، یو یې تیاتر اجرا کړی و او د یو نړیوال سمینار له لارې یې میلیونونو کسانو ته وینا کړې وه.

دې سړي پر تاسې اغېز ونه کړ؟ که پوه شی چې هغه نه لاس درلودل او نه هم پښې، بیا څنگه؟ اوس هم حیران نه یاست؟ نیک پرته له لاسو او پښو دا ټول کارونه تر سره کړي وو. هغه له دې مخکې د یوازېتوب احساس کاوه چې د ځان وژنې له امله یې خپل لاسونه پرې کړي وو، خو له نیکه مرغه چې ژوندی پاتې شوی و. هغه له دې وروسته د مور او پلار د مینې د اداینې په پار په ټول توان او زحمت سره وغوښتل چې په ژوند کې بدلون راولي. هغه نه غوښتل چې محدودیتونه یې د پرمختگ پر مخ د نه حرکت کولو یا سټاپ ټاپه ووهي. هغه له خپلو ټولو وړتیاوو پوره پوره استفاده وکړه. هغه په خپل یوه کتاب کې لیکي: «هلن کلر په ماشومتوب کې د اورېدو او لیدو حسونه له لاسه ورکړل، خو له دې سره سره بیا هم یو ښه لیکوال شو. هغه وایي چې د ایمن په نوم کوم ژوند نشته. په طبیعت کې هم دا ډول څه نشته. ژوند یوه له ستونزو ډکه هڅه ده او یا هېڅ. نو پر همدې اساس خطر منل د ژوند یوه برخه نه ده، بلکې خپله ژوند دی.»

ستاسې د محدودیتونو او موخو تر منځ یو واټن شته چې ستاسې د ژوند اصلي رنگ ټاکي. همدا محدوده زیاتې لوړې ژورې لري، خو همدا ځای دی چې کشفوي تاسې څوک یاستی.

نیک پر دې باور درلود چې هدف یې وینا او یو اغېزناک ویناوال اوسېدل دي؛ خو په دې اړه یې نه کومه تجربه درلوده، نه کومه منبع او نه هم هغه د وینا لپاره یوځه چې غوښتل یې. هغه ښوونځیو ته لیکونه لېږلي وو چې د لویو موخو د تر لاسه کولو او له هغه د نه لاس اخیستو په اړه د هغه د وینا لپاره یو سمینار جوړ کړي. ۵۲ ښوونځیو یې دا غوښتنه ونه منله؛ خو کله یې چې ۵۳م ښوونځي ته دا لیک ولېږه، هغه وه چې د ده غوښتنه یې ومنله او د بلنې د منلو تر څنگ یې هغه ته ۵۰ ډالر هم ومنل. هغه ډېر په بیړه حرکت وکړ، خو لږ وروسته پوه شو چې تر هغه ښوونځي خو د موټر دوه نیم ساعته لار ده. بالاخره یې له خپل ورور وغوښتل چې دی تر هغه ښوونځي ورسوي. کله چې یاد ښوونځي ته ورسید، یوازې لسو زده کوونکو ته یې د پنځو دقیقو لپاره وینا وکړه. له دې یې ډېر بد احساس کاوه؛ خو اونۍ وروسته یې ټلیفون ته زنگونو مخ کړه. هر ښوونځي به له هغه غوښتل چې دوی ته ورشي او زده کوونکو ته یې خپل داستان ووایي. دا بلنې یې ورځ تر بلې زیاتېدې. له هغه ورځې را وروسته اوس هغه ته هر کال د ۳۵۰۰ ویناوو بلنې راځي.

نیک خلکو ته وایي چې لویې موخې ولري او یوځه د نورو په نظر بېعقل ورشي. هغه وایي: «که د ژوند د ډول په اړه مو تر هرڅه زیات د خلکو نظرونو ته اهمیت ورکړ څو تاسې نادیده ونه شمېرل شی، باوري یم چې هېڅ ښه ژوند به ونه لری، له ژوند به خوند وانه خلی او هغسې چې ستاسې خوښېږي، هغسې به ژوند ونه کړی. زه د ټولې دنیا له خلکو یو نواخت تصویر لرم. که ټوله دنیا داسې فکر وکړي چې تاسې په کاپي اندازه ښه او لایق نه یاستی، پوه شی چې دا ډېر لوی دروغ نه دي؛ خو هغه لاره او مسیر مو چې د ځان لپاره ټاکلي، له تعقیبولو یې لاس مه اخلئ.»

**۱ـ خپل ارزښت مو وپېژنئ او وړتیاوې مو د امکان تر حده پیاوړې کړئ**

تاسې بیخي ډېر ارزښت لرئ. بیخي ډېرې وړتیاوې هم لرئ او دا هم ومنئ چې همدا اوس تاسې په ډېر ښه وضعیت کې یاستی؛ خو دا وړتیا هم لرئ چې هره ورځ له مخکې ښه شئ او بالاخره لویې لویې لاسته راوړنې ولرئ.

کاترین بي وایي: «موږ انسانان د ژوند یوه لویه برخه یانې تر ۲۰ کلنۍ خپل عمر یوازې د هغو څیزونو په کشف کې تېروو، چې کولای شو هغسې و اوسو؛ خو کله چې بیا ۳۰ کلنۍ ته رسېږو، دا وخت بیا د هغو څیزونو د کشف په اړه خپل وخت ضایع کوو چې هېڅکله به هم ورته ونه رسېږو. او کله چې بیا ۴۰ کلنۍ او یا له دې لوړ عمر ته رسېږو، دا وخت بیا له ننگونو سره مخ کېږو چې پایله یې زموږ پر یوه ښه شخص د بدلېدو زیری راکوي. څکه دا وخت خپل ټول محدودیتونه یوې خوا ته کوو او یوازې د هغه هدف پر لور حرکت کوو، چې تر نورو راته لومړیتوب لري.

زما په نظر، د هغه نظر قابل د قدر دی؛ خو موږ داسې تصور هم کولای شو چې د ژوند څېرکي موږ په خپل غېږ کې نه شي را ایسارولی. موږ کولای شو په ۲۰ کلنۍ کې خپل ټول محدودیتونه یوې خوا ته کړو او یوازې هغه څه ته متوجې واوسو، چې موږ یې غواړو. په ۵۰ کلنۍ کې هم دا کار کولای شو.

## وېلسن: روان تاوتریخوالی د منلو نه دی، افغانان پراخ اوربند ته اړتیا لري



په کابل کې د امریکا سفارت شارژدافیر راس وېلسن وایي، په لغمان او ننگرهار ولایتونو کې د موټر بم بریدونو له کبله اندېښمن شوی دی. نوموړی پر خپل ټویټر لیکلي چې د سیاسي تاوتریخوالي له امله مرگ ژوبله زیاته شوې ده. نوموړي د موټر بم بریدونه او د تاوتریخوالي زیاتوالی غندلی دی.

وېلسن زیاته کړې چې افغانان پراخ اوربند ته اړتیا لري.

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې د سولې بین الافغاني خبرو له پیلېدو سره جگړې هم ډېرې شوې چې پر افغان ځواکونو او طالبانو سربېره، پکې ملکیانو ته هم درنه مرگ ژوبله اوړي. وروستۍ پېښه یې تېره ورځ د لغمان په مرکز مهترلام کې د والي رحمت الله یارمل د موټرو پر کاروان په برید کې د چاړواکو په وینا، اته تنه ووژل شوي او له ۳۰ ډېر کسان ټپیان شوي دي.

د لغمان والي ویاند اسدالله دولتزي ویلي چې په وژل شوو کسانو کې څلور ملکي وگړي او څلور د والي ساتونکي شامل دي.

په ورته وخت کې تر دې پېښې مخکې د ننگرهار په غني خېلو ولسوالۍ کې بیا همداسې یو برید د ښځو او ماشومانو په گډون ۱۶ تنه ووژل او ۳۷ نور ټپیان کړل.


که څه هم چې تر دې مهاله د دغو دواړو بریدونو مسوولیت کومې وسله والې ډلې نه دی منلی، خو حکومت یې پړه پر طالبانو اچولې ده.

په ورته مهال د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون هم د ننگرهار ولایت په غني خېلو ولسوالۍ کې موټر بم برید غندلی او د ورته بریدونو دوام یې د سولې بهیر په ضرر بللی دی. یاد کمېسیون همدارنگه دغه برید د نړیوالو اصولو خلاف او جنگي جنایت بللی دی.

په افغانستان کې د یوې اونۍ دننه د یوې ورځې په توپیر دغه موټر بم بریدونه داسې مهال کېږي چې په دغه هېواد کې د تاوتریخوالي کمېدو په اړه هیلې زیاتې شوې دي.

په قطر کې د حکومت او طالبانو د مذاکراتي ټیمونو ترمنځ د سولې خبرو پیل هغه څه دي چې خلکو ته یې د جگړې پای ته رسېدو په اړه هیلې پیدا کړې دي.

## خلیلزاد: په افغانستان کې د تاوتریخوالي لوړه کچه د بې‌باورۍ د زیاتېدو لامل گرځېدلې



د افغان سولې لپاره د امریکا ځانگړی استازی زلمی خلیلزاد وایي، په افغانستان کې د تاوتریخوالي لوړې کچې اندېښمن کړی دی. نوموړی وایي، د تاوتریخوالي لوړه کچه د بې‌باورۍ د زیاتېدو لامل گرځېدلې.

خلیلزاد چې له دوحې وروسته تاجکستان ته تللی، ټینگار یې کړی چې د افغانستان دولت او طالبان باید ژر تر ژره د تاوتریخوالي د کمښت په خبر په اصلي موضوعگانو بحثونه پیل کړي او په جگړه کې ښکېلې خواوې باید د لانجې د حل داسې لار ولټوي چې پر مټ یې د وینې تویېدل بند شي.

خلیلزاد د دې پوښتنې په ځواب کې چې سولې ته د رسېدو اصلي مانع څه ده؟ ویلي: «یو لوی خنډ تاوتریخوالی دی. دا تاوتریخوالی چې لا ډېر زیات دی، د دواړو خواوو ترمنځ د بې‌باورۍ له زیاتېدو سره مرسته کوي چې ایا د سولې په مسئله کې جدي دي که نه. موږ د جنگ د تاوتریخوالي د کمېدو پلوي یو او په دوحه کې مو چې کوم بحثونه درلودل (طالبان او حکومت) ومو هڅول چې باید د جنگ تاوتریخوالی راټیټ شي.»

خلیلزاد ویلي چې ښایي ستونزمنه وي چې د افغانستان د څلورو لسیزو جگړه په څو ورځو یا اونیو کې ختمه شي، خو د افغانانو او نړیواله ټولنه د دې ډېر لېواله ده چې دا جگړه ژر تر ژره بنده شي.

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو څو اونیو کې د افغانستان بېلابېلې سیمې د ماین چاودنو، هدفي وژنو او نا امنیو شاهدې دي. په ورته وخت کې د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون هم ویلي چې د دوی د موندنو په اساس د روان میلادي کال په لومړیو شپږو میاشتو کې ترهگریزو بریدونو ۵۳۳ افغان ملکیان وژلي او ۴۱۲ نور ټپیان دي.

دغه کمېسیون د ملکیانو د مرگ‌ژوبلې په زیاتېدو اندېښنه ښودلې او ویلي یې دي چې د تاوتریخوالي او خونړیو بریدونو دوام د سولې له روانو خبرو سره کاملاً په ټکر کې دي.

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL
PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com

سه شنبه د ۱۳۹۹ د وږي ۱۵مه | د ۲۰۲۰ د سپټمبر شپږمه |۶۰۶مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۵ | ۲۸ | ۳۲ | ۲۶ | ۳۴ | ۳۰ |
| ۱۱ | ۹ | ۱۳ | ۱۲ | ۱۹ | ۱۶ |

شرعي وختونه: سهار ۰۴:۲۹ | لمر ختل ۰۵:۵۱ | ماسپښین ۱۱:۴۲ | مازیګر ۰۳:۰۱ | ماښام ۰۵:۳۲ | ماخوستن ۰۶:۵۶

## نړۍ



د نګورنو قره باغ د جګړې دوام؛

## راپورونه: د ارمنستان او اذربایجان د پوځیانو ترمنځ په نښتو کې له ۲۵۰ ډېر کسان وژل شوي دي

۳

## تازه شمېرې: د کرونا له کبله د مړو شمېر یو میلیون او ۴۲ زره ۹۸۲ کسانو ته ورسید



د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې د کرونا ویروس مثتبې پېښې ۳۵.۴۷ میلیونو ته رسېدلي دي. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله یو میلیون او ۴۲ زره ۹۸۲ کسان مړه شوي او نږدې ۲۷ میلیونه نور ترې ببړته رغېدلي دي.

د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. په امریکا کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې اووه میلیونه ٦۳۸ زره او ٥۹٦ ته رسېدلي او ۲۱۴ زره او ٦۲۹ امریکایان یې مړه کړي دي.

له امریکا وروسته هند د شپږ میلیونه او ٦۴۱ زره او ۷۸۹ مثتبو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د څلور میلیونه او ۹۱۵ زره او ۲۸۹ مثبتو پېښو له کبله د نړۍ درېیم، روسیه د یو میلیون او ۲۲۵ زره او ۸۸۹ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ څلورم او کولمبیا د ۸۵۵ زره او ۵۲ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ پنځم هغه هېواد دی چې د کرونا ډېر مثبتې پېښې پکې ثبت شوې دي.

دغه راز پېرو، هسپانیا، ارجنټاین او مکسیکو په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا ویروس له کبله ډېر ځپل شوي دي.

## راپورونه: په بېلاروس کې د پولیسو او لاریونوالو ترمنځ په تازه نښتو کې ګڼ کسان ټپیان شوي دي

د راپورونو له مخې، په بېلاروس کې زرګونه کسان د الکساندر لوکاشینکا د حکومت پر ضد لاریونونو ته راوتلي وو چې دا لاریونونه پر تاوتریخوالي اوښتي دي. اسوشیټېډ پرېس خبري اژانس ویلي چې د لاریونونو او تاوتریخوالي پرمهال ګڼ کسان ټپیان شوي او سلګونه نور د پولیسو له خوا نیول شوي دي. د سرچینې په خبره، لاریونوالو د سیاسي بندیانو په ملاتړ یې شعار ورکول. د یادونې ده، دا اتمه اونۍ ده چې په بېلاروس کې لسګونه زره کسان د الکساندر لوکاشینکا پر ضد راپاڅېدلي او د هغه د لرې کولو غوښتنه کوي. لوکاشینکا له ۲٦ کلونو په بېلاروس واک چلوي. د اپوزیسیون یو خبري چینل نکسترا راپور ورکړی چې د مېنسک په لاریونونو کې له یو لک زیاتو کسانو برخه اخیستې وه. پولیسو د دغو کسانو د خورولو لپاره له اوښکې بهوونکي ګاز او اوبو کار اخیستی او له لاریونوالو سره نښتې کړې دي. زرګونه کسان د پولیسو له خوا په دې اتو اونیو کې بندیان شوي او یو شمېر نور هم د زور زیاتي له امله ټپیان دي.

د حکومت مخالفین او لاریونوال وایي، چې الکساندر لوکاشینکا په درغلیو د اګست نهمې ټاکنو کې ځان بریالی کړی، خو دوی ته د منلو نه دی.

## یافته ها: بیش از هفت میلیون افغانی پول خرید آرد برای توزیع نان در بادغیس به آرد فروشان پرداخت نشده است



یافته های پژواک نشان میدهد درحالیکه از پروسۀ توزیع نان خشک در بادغیس، چهار ماه می گذرد؛ اما هفت میلیون افغانی پول خرید ۳۵۰۰ بوری آرد، تاکنون به مالکان آن پرداخت نشده و آرد فروشان می گویند که خیلی متضرر شده اند. مردم و مسئولان محلی این ولایت، از وجود فساد در خریداری ۸٤۰ بوری آرد خبر داده می گویند که مصرف این مقدار آرد، تائید نشده است.

جمال الدین یکی از آرد فروشان و قرارداد کنندۀ فروش آرد به ادارۀ شاروالی ولایت بادغیس است. او حدود چهار ماه قبل به همکاری ۱۰ تن دیگر از آرد فروشان این ولایت، قرارداد فروش ٤ هزارو ۳٤۰ بوری آرد که «۳۱۷ تُن» می گردد را با شاروالی و مقام ولایت بادغیس، به امضا رسانده است.

به گفتۀ موصوف، این مقدار آرد در دو قرارداد با حضور مسئولان محلی و اعضای شورای ولایتی، عملاً به نانوایی ها توزیع شده است؛ اما با گذشت چهارماه از این پروسه، تاکنون آردفروشان حتی به یک افغانی پول شان هم دست نیافته اند.

موصوف علاوه کرد که هرچند از چهارماه به این طرف، همه روزه به اداره های مختلف بخاطر دریافت پول شان سرگردان هستند؛ اما تاکنون به آنها پول پرداخت نشده است. عبدالعزیز بیک رییس شورای ولایتی بادغیس نیز با انتقاد از عملکرد ادارۀ شاروالی قلعه نو، به پژواک گفت که روزانه نماینده های آرد فروشان، به دفتر شورای ولایتی می آیند و ادعا دارند که اداره های مسئول، پول شان را از چهار ماه به این سو نپرداخته اند.


## ژونـــد

## اوپو ۵جي ځیرک موبایل معرفي کړ



اوپو کمپنۍ د ۲۰۲۰ کال په جون کې د رینو۴ د لړۍ ځیرک موبایلونه خرڅلاو ته وړاندې کړ او اوس یې د دې لړۍ نوی ځیرک موبایل، اوپو رینو۴ اېس اي خرڅلاو ته وړاندې کړی، چې د دې کمپنۍ تر ټولو ارزان بیه ۵جي ځیرک موبایل دی. رینو۴ اېس کې ٦،۴۳ انچه اولېډ ډوله مخپاڼه ورکړل شوې او د ګوتې نښې سېنسر هم د مخپاڼې لاندې ځای پر ځای شوی دی. دغه ځیرک موبایل له ۵جي څخه ملاتړ کوونکی ډایمېنسټي ۷۲۰ ډوله پروسېسر، ۸ ګیګابایټ رم او ۱۲۸–۲۵٦ ګیګابایټ د فایل ثبتونې وړتیا درلودونکی دی. رینو۴ اېس کې ۴۳۰۰ ملي امپیره وړتیا لرونکې بېټرۍ ورکړل شوې چې ٦۵ واټ سوپر ووک فلش چارج ۲،۰ څخه ملاتړ کوي. د دغه ځیرک موبایل ۱۲۸ ګیګابایټ د فایل ثبتونې وړتیا لرونکې بڼې بیه ۲۳۹۹ چینایي یوان او د ۲۵٦ ګیګابایټ فایل ثبتونې وړتیا لرونکې بڼې بیه ۲۷۹۹ چینایي یوان ټاکل شوې ده.

## د پانګونې په اړه نیمايي سپارښتنې خطرناکې وي



ایا د پانګونې په برخه کې د سلاکارانو له متناقضو سپارښتنو سترې یاست؟

یو متخصص وایي، متنوع پانګونې وکړئ څو مو په دې برخه کې د ماتې خطر کم شي. بل بیا وایي، د پانګونې لپاره یوه برخه سمه ده، نه بېلابېلې. دغه ډول که د نورو متخصصینو نظرونه هم واخلی، کېدای شي بېلابېلې سپارښتنې درته وکړي. کله چې د یوې مسئلې په اړه د پانګونې متخصصین درته بېلابېلې نظریې درکړي، تاسو به وکولی شی چې په ډاډه زړه پرېکړه وکړی. هر کارپوه داسې خبرې کوي چې ته به وایې بریا ته د رسېدو لپاره همدا یوه لاره ده او بس. اصلي خبره دا ده چې که تاسو د هر ډول پانګونې په اړه بحث کوی، هرو مرو دوه اړخونه لري: یو به یې مثبت او بل به یې منفي وي، خو مالي پوهه بیا هغه څه ده چې تاسو کولی شی په ډېرې اسانۍ سره خپله لاره غوره کړی او یا دا چې دا درته په ډاګه کوي چې په کومه برخه کې څومره پانګونه وکړی.

د (ATM) یا صرافی خپلکاره ماشینونو کارت لرونکو ته د پیسو اخېستلو اسانتیا

د افغانستان د تادیاتو سیستم (Afghanistan Payment System) د فعالیت له پراختیا سره، د ټولو دولتي او خصوصي بانکونو پیرودونکي چې له دغه سیستم سره تړلی وي، کولی شي په مرکز او ولایتونو کې د عزیزي بانک د ټولو خپلکاره صرافي ماشینونو(ATM) څخه په 24 ساعته توګه پیسې ترلاسه کړي.

همدارنګه د عزیزي بانک محترم پیرودونکي کولی شي د خپلو ATM کارتونو څخه په کښتنی له ټولو هغو دولتي او خصوصي بانکونو پیسې ترلاسه کړي چې له دغه سیستم سره نښلول شوي دي.

عزیزي بانک له نوې ټکنالوژۍ سره جوخت خپلو پیرودونکو ته د غوره چوپړتیاوو وړاندې کولو ته ژمن دی.

www.azizibank.af 1515

عزیزي بانک
Azizi Bank

